دمقالی لیکونکی:بینوکمپمارک (Binoy Kampmark)
منبع اودخپریدو نیټه (ګلوبال ریسرچ ۲۰۱۴-۲۹).
ژباړونکی :پوهندوی دوکتور سیدحسام «مل»

---

# له افغانستان څخه داوږدی مودی له وتلووروسته
# د ما تی خدای پا ما نی

## The Long  Withdrawal: The Defeated Leave Afghanistan

دهلمند په ولایت کی  د سمندری ټوپکوالو داډی څخه  دنړی ددوو ځواکمنو او قدرتمنو  هیوادونو ( دامریکی متحده ایالات او بریتانیا)  بیرقونو را  ښکته شو دهغو  هیوادونو کوم چی دواړه دافغانستان اوبیا په تیره په دی تازه وختونو کی




*(« مخکی له هغه چی مونږ افغانستان ته لاړشو  هلته داسلام پلو افراطی ډلو ټپلو  یو لړ ولاړ شوی ستونزی موجود وه  کوم چی دغه ستونزی به مونږ سره دیو اوږد مودی دپاره مل اوسی » میخایل فالن  دبریتانیا ددفاع وزیر :تیلیګراف «۱۰-۲۶-۲۰۱۴،»)*

دافغانستان دساتونکواودایساف (بین المللی  امنیتی مرستندوی قوتونه) دسرتیرو ترمینځ  نه هیریدونکی  تاریخی اړیکی رامینځته شویعنی هغه  تاریخی  اړیکی چه دهغه دهیریدو ضرورت تر ډیرو وختونو پوری  به ونه لید ل شی ، دهلمند په ولایت کی دسمندری  ټوپکوالو  داستحکاما تو اود نظامی اډو انتقال افغا نی لوری ته  په تاریخی لحاظ یوه بله دپام لرنی وړ ټکی   په ګوته کوی ، یعنی هغه  د پام  لرنی وړدوامدار ټکی  کوم  چی مسولو  مقاماتو  دیولړ نا سم  اوله

ا شتباه څخه په ډک چلند هغه وړاندی کړ شوی پروګرامونه او پلانونه دهغه داصلی مسیر څخه بی لاره کړل اودهغه پلانونه دخوځنده څرخ په وړاندی خنډونه رامینځته کړل له بده مرغه دغه خطاکاران اواشتباه کونکی لوړ پوړی چا رواکود خپلو اشتباها تو د پټولویا د خپل ګناهونو په نه اقرارکولوسره دیوخیالی یا دیو ناچل هد ف درامیندلو دپاره په هڅی اواند سره پیل وکړل که چیری وتوانیږی چی دخپل دګمراهی د نقلیه وسیلی څرخ له سقوط څخه وساتی یا یی را بچ کړی نو دهمدی دلیل په نظر کی نیولو سره هغوی د تیم کرایګ (Tim Craig) داکتوبرد«۲۴ » نیتي هغه لیکل شوی اوپه واشنګټن پوست کی په نشررسید لی مقا لی ته پام شو چی هغه پخپل مقا له کی داسی یادونه کړی وه «افغانستان په جنوب غرب یعنی دهلمند په ولایت کی دسمندری ټوپکوالوداډی (پایګاه) انتقال افغانی لوری ته د ایتلافی ځواکونو دپاره د (۱۳) کلن جګړی د پای په درشل کی د توپ هغه درامتیک او بوږنونکی ډزی ته پا تی کیږی چی ایتلافی قوتونه لاهغه په خوب کی هم نه وه لیدلی».

دامریکی دمتحده ایالاتو نظامی جنرال جوزف اندرسون ( Gen.Lt. Joseph Anderson ) ممکن دی چی دغه داوږدی جګړی دپای ورځی دیو «ر ښتینی تاریخی ورځ» په نوم یاد کړی اوهغه هم په دی دلیل چی دایتلافی قوتونو ما موریت وروسته داږودی مودی خونړی جګړی او په سوځونکو ګرمو افتابی ورځو کی دګزمی وهلو اوهم د بی شمیر تلفا تو له شره څخه خلاص شولو ، په هرصورت داډول یادونی یا تبصری پخپله ددی نوموړی تاریحی ورځی درنښت اوپیاوړ تیا راتیټوی اویا پرهغه باندی بی با وری را په ګوته کوی خصوصاً د هغو خلکو په وړاندی کوم چی دوی دخپل دناکامی پر کټو (دیګ) باندی په اصطلاح دخپل دبریالیتوب برغولی (سرپوش) ایږدی .

کله چی تحلیل کونکی خپل تحلیلی مهارت دایتلاف دماموریت په هکله پکار واچول نودی پایلی ته ورسید اوهغه داچی که څو ک له دی ناوړی او نا پسند لوبنی یا غږکی څخه دشراب په څکلو او مست کیدو سره سره بیا هم یو څه کم عقل ولری نو هغه به د وطنپرستی احسا س هیڅکله هم د لاسه نه ورکوی « په افغانستان کی دامریکی دمتحده ایالاتو اوږد او دوامداره جګړه ، داسی نه ښکاری چي په ښه شان سره پای ته رسید لی اوسی ، داهغه مطلب دی چی

ښاغلی ستیفن ام والت (Stephon M. Walt) دبا ند نی سیا سی مسایلو په نشریه کی ددی کال په لمړیو وختونو کی دیو مقالی په ترڅ کی یادونه کړی وه اوویلی وه چی اوس داسی په نظر راځی چی دامریکی د متحده ایالاتو خلکو په دی پوه شوی دی چی هغوی ساده خلک نه دی اود ویلو جرآت لری .

همدارنګه ښاغلی والت (Walt) هغه لسو اشتباهاتو اوخطاګانو ته چی ددی اړودی جګړی په دوام کی را مینځته شوی دی اشاره کوی اوداسی وایی چی دبوش دادارِی یواړخیز ناری سوری او چلند کوم چی دلوړ مالی لګښتونو سره سره نه داچی یواځی هغه ادراه دماتی سره یی مخه شو بلکه نور پا تی شیان یی هم جهنم ته ورننویستل .دبلی خوا څخه ښاغلی والت د «اوسما بن لادن » پرموضوع باندی یولړ ګډوډ تیا اوسردرګمی ته په اشاره کولو داسی څرګندوی : په توره بوره کی داوسما بن لادن درانیولو اویا دهغه دوژلو په اړین سړی ته شک او بد ګما نی راپیداکوی اوهغه دا چی دهغه نیونه اوژنه څه ستونزمن موضوع نه وه اما یوشی چی دبن لادن په اړه باید له پامه ونه غورځول شی هغه دادی چی د«بن لادن »آزاد پریښودل په دی معنی وه چی هغه ته چا نس اووخت ورکړ شوچي خپل نوی تشکلیل شوی غورځنګ (دالقاعدی سازمان )ته په نړیوال بنه هویت ورکړی بله موضوع چی دهغه یا دونه ضرور شمیرل کیږی هغه دادی چی په کال (۲۰۰۴) کی افغانستان دخپل اساسی قانون په رڼا کی وغوښتل چی په سیمیز اورګانونو باندی د لاس بری دپیداکیدو او هم عامه خلکو ته داجتماعی خد ماتو پرمالی لګښتو با ندی د پوره معلومات په منظور مرکزیت ته باید وده ورکړی یا داچی ټول ولایات او سیمی له یو قوی مرکز څخه اداره شی اما دامریکی دمتحده ایالاتو حاکم سیاسی نظام له یوسره دغه منطقی موضوع اوابتکار ته رای ورنکړ اوله پامه یی وغورځول یعنی عدم تمرکز ته مخه کړل .

دپورتنی اشتباهاتو لړی دومره پراخه وه چی حتی د بریتانیا ددفاع وزیر ښاغلی میخایل فالون (Michael Fallon) د( بی بی سی) د خبر یال اندریو مار(Andrew Marr) سره په یوه خبری نا سته کی څرګند کړ چی ځنی مسول سیاسیی کړی په تیرو لسو او دیارلسو کلونو کی ځنی نظامی خطاګانی ترسره کړی چی هیڅوک تری منکر کیدای نشی اوهغه داچی اوسنی ټول لاسته راوړنی دتیر وضیعت اودحالاتو دسقوط پایلی دی چی باید پرهغه

باندی ځان متمرکز کړو یعنی ننی وضع د تیرشوی حالاتو دموقیعت یا له اصلی جریان څخه دسقوط اودزوال پایلی کیدای شی چی ومنل شی .

په ورته بڼی سره داسی موقف یا موضعګیری په ډیرخوشحالی سره دبریتانیا دمحافظه کار ګوند دغړی (افضل امین) له خوا کوم چی هغه همدا اوس د ( Dudley North) دپاره ځان کاندید کړی دی نیول کیږی اود هغه دټولو هڅو اواند څخه داسی څرګندیږی چی هغه د خپل هڅو د توجهه کولو د پاره داسی څیره ښیي چی ګواکی هغه تر فشار لاندی دی ماموریت ته په ګوته شوی چی باید خپل هڅی اواند ته دوام ورکړی . نو په همدی دلیل سره ټول شورشیان ( که طالبان - دحقانی دشبکی غړی اویاهم دحکمتیار دحزب پوری تړلی ډلی اوټپلی دی ) د دی د پاره چي ژوند پا تی شی ، دی ته اړ دی چی په همدی ډول هلو ځلو لاس پوری کړی (ګاردین داکتوبر «۲۹» کال «۲۰۱۴») اوداهغه څه دی چی تر اوسه پیښ شوی دی . په هرصورت دابايد په ډاګه شی چی په دی اوږد جګړه کی ناتواودهغه پوری تړلی حلقی ماتی وخوړل اوداځکه چی (ناتو) دضد شورشی فعالیتونو دسرته رسولو وړتیا نه درلود یعنی ناتو ونشو کړلی چی دشورشیانو پرضد مناسب چلند ترسره کړی .

بل مهم ټکی چی دلته باید پرهغه باندی یوڅه تم شو هغه دادی چی د اړینو اوتصمیم نیونکی مقاماتو له لړلید څخه دا مثبت اوبهتر وګڼل شو چی افغانستان دی دیوغیرمتمرکزاو کلیوالی یاروستایی ټولنی په بڼه پاتی شی ترڅوچی ددغه بډا اوغنی هیواد له هری برخی څخه کافی اوبشپړ معلومات د ملاتړ په مخه ترلاسه شی یعنی هغه اطلاعات چی څه د ناکامی اویا څه هم دازمایشی بریالتوب په وخت کی ترلاسه کیږی .

فالون وویل :یو څه چی ځما نظر خپل ځانته را جلب کړ هغه دادی چی باید دبڼه ماموریت دسرته رسولو دپاره دافغانستان له شاوخوا څخه داسی یو کمربند را تاو کړ شی چی ددی کمربند په هر ټاکلی برخه کی دماموریت روښانه نښی اونښانی تصریح اونشانی شی ، اما دبریتانیا سر تیری نور په هیڅ صورت او دهیڅ کوم شرایطو په نظرکی نیولو سره حتی که تضمین شوی هم اوسی نور دی هیواد ته باید ونه لیږل شی حتی که د شورشیا نو حملی اویرغل لا پسی هم زیا تی شی پس باید وویل شی چی هرڅوک دخپل ماموریت دسرته رسولو دپاره په دیر سختی سره خپل اراکسترا غږوی اودهغی پربنیا د خپل ماموریت

توجیه کوی ..
له افغانستان څخه دبا ند نیو سرتیرو د وتلو دبحث اودخبرو عمده برخه په افغانستان کی د با ند نیو قوتونو دپاتی اود ناکامی موضوع تشکیلوی یعنی داچی دا پخپله یوه انکار نه منونکی ما تی اوناکا می دی چی که چیری هرنوم ورته ورکړ شی هغه به ریا او بی له ځان غولولو څخه بل شی به نه وی اوله دی نه هیڅوک منکریدای نشی اوهغه داچی دناتوهررسمی غړی څه کم اویاڅه زیات دافغانستان په هر موضوع اود کار په هره روند اوجریان کی څرګند دخالت لرل چی هرچا ته لکه دلمر په شان روښا نه دی ، دفالون (Fallon)په خبره دلته هغه څه چی وجود لری هغه (روزنه - اړیکی نیول - نظارت کول اودضرورت په وخت کی دتروریزم سره جګړه کول ) دی دبلی خوا څخه دلته دافغانستان پررهبری باندی له لازم حده څخه زیات باورمندی دهغوی دمیړانی هڅی اواند په نظر کی نیولو سره ترسره کیږی هغه میرانه کوم چی هغوی د قربانی اود احتمالی سقوط په درشل کی له ځانه چمتوالی ښیی ، اوپه تیره بیا دافغانستان داردو . وتلی استاذی جنرال سعید ملوک کوم چی دیوسوال په ځواب کی داسی وویل :هیڅ صلح اوهوسا ینه بی له اعتماد پرنفس اوبی له باکیفیت کړنی څخه نه ترلاسه کیږی نو دهمدی دلیل په نظرکی نیولو سره کوم چی دلته سوله اوهوساینه راځی نو باندنیو قوتونه له افغانستان څخه پښی سپکوی .
ځنو ځنو داسی ادعا کوی چی په افغانستان کی جګړه پای ته رسیدلی نو دهمدی دلیل پر بنیاد باندنی قوتونه له افغانستان څخه وځی حا ل داچی په یوه بل احساس سره باید وویل شی چی جنګ نوی پیل شوی دی یا دپیل کیدو په درشل کی دی ، ممکن خنی سرتیری داسی وګڼی چی جنګ پای ته ورسید حال داچی باید وویل شی چی روانه جګړه لا پخپل قوت کی پاتی دی اوداسی انګیرل کیږی چی ددی جګړی د ختمولو د پاره هیڅ یو رغنده کار نه دی تر سره شوی اویا داچی دفالون په خبره په افغانستان کی دتروریستانو پټ ځایونه له مینځه تللی دی . مګر له بده مرغه افغانستان هسی یوهیواد دی چی هیڅکله له جنګ او جګړی څخه په بشپړه توګه نه دی خلاص شوی یا هسی دچا په خبره افغانستان هیڅکله دجګړی دغولانځی له څوکه څخه نه دی بیل شوی .
بی ویلو دی پاتی نشی چی افغانان هیڅکله دداسی جنګونو اوشخړو زیږونکی

نه وه اونه دی   او  بیا په  تیره  ددی نوی دوری متحمل او زغمونکی افغانان هیڅکله جګړه نه دی غوښتلی  اما کله چې د ظا لما نه  هیوادونو دیرغل سره مخامخ شوی دی یعنی کله چې پرهغوی باندی جګړه تپل شوی دی نوبیا په هغه وخت کی مجبورشوی دی  چې په جګړه  لاس  پوری  کړی ، د  تاریخ دپا نې له مخی  تل  امپراتوری متجاوز  هیوادونه  پردغه هیواد باندی  په  پرله  پسی توګه  تحاوز  کړی  او  غوښتی  دی چې دغه هیواد  دتمد ن له  کاروان  څخه ترشاوتمبول  شی  او  دهغو ناپوه اوبی منطق ماهران او ګمراه کونکی رهبران نه  دی  پریښی  چې  دغه  هیواد  خپل  طبعی پرمختک  ته دوام ور کړی ، نوپه همدی دلیل دی چې  هر  متجاوز  اوجګړه مارو امپراتوری  چې  پردغه  هیواد باندی یرغل کړی دما تې سره مخامخ شوی او خپل سریې خوړلی  چې دهمدی دلیل په نظر کی  نیولو سره  افغانستان  په  واقیعت  کی  دامپراتوری متجاوزو هیوادونو  د سرتیرو اودمهاجمینو قبرستان نومیږی .

----------------------------         په درناوی